مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد معصوم هوتک

۲۰۱۹/۰۶/۱۲

# د استاد جلال الدين کونړي پر مړينه

نـــن مي بيـا پـه زړه يــو غشی آهـــنـين ولاړ
چـي لـــه هـــاره د ادب يـــو بـــل نـگـين ولاړ

ورتـــه گــورمـــه د پـــوهـــي کـــور تـــشـېـړي
ورتـه ژاړمـــه چي بـل يـــار مـــي ديـــرين ولاړ

د مرگي ږغ ئي خدای سته چي ډېـر غـمـجن کړم
خـــو تـسل مـي سو پـــه دې چي پـه تـمکين ولاړ

خـــاطـــري ئـــي خــورا ډېـــري را ســره دي
هـم مـي دوست، هـم مي اسـتـاد او همنشين ولاړ

پـــــر نـــېـتـــه ئـــي د وفـــات وم سـرگـردانـه
چي نـاخـاپـــه مـي لــه زړه دا بيت حـزين ولاړ

مشـدّد (آه) و (اوه)، (وای) پـر (کـونـړ) راغـلل
"د رشـاد د لاس نـــهـال جـلال الـــديـــن ولاړ"

آشاوا ـ کاناډا
۱۱جون ۲۰۱۹ع

## حل :

تاريخي ماده" د رشاد د لاس نهال جلال الدين ولاړ" ده چي ابجدي ارزښت ئې( ۱۰۸۶) کېږي. د مشدد آه = ۷، اوه=۱۲، وای= ۱۷ قيمتونه چي پر (کونړ= ۲۷۶) زيات سي او حاصل ئې د تاريخي مادې له ارزښت سره جمع سي (۱۳۹۸) لاس ته راځي. استاد جلال الدين کونړی د ۱۳۹۸ ش کال د جوزا پر ۱۹ مه = ۹ جون ۲۰۱۹ع په پېښور کي وفات سوی دئ.

خدای دې وبخښي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ